مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۱۳

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (نهه اویایمه برخه)

### غلام رسول نورستاني

د کابل حربي پوهنتون ئـې لوستی دئ. ډېره موده ئې په اردو کې خدمت کړی دئ. د دفاع د وزیر داؤود تحت الحمایة. د جنوبي ولایت د دولسمي فرقې مشر بولندوی. د پکتیا او مزار شریف والي. په ۱۹۴۵ز کال کې ‹د احمد علي خان پر ځای› د «اداري چارو جنرال»[1] سو. په ۱۹۷۴ز کال کې وفات سو.

### محمد اکبر شورماچ نورستاني

په ۱۹۲۹ز کال کې د نورستان په ‹کیوشت›[2] کې زېږېدلی دئ. لومړنی او منځنی زده کړې ئې په حربي ښوونځي کې بشپړې کړې او بیا د کابل له پوهنتون څخه د تأریخ او جغرافیې په ډګر کې د لیسانس په درجې فارغ سوی دئ. له ۱۹۵۵ز کال راهیسې په حربي ښوونځي کې د جغرافیې ښوونکی. د ۱۹۸۵ز کال په دسمبر کې د قبائیلو د چارو د وزارت مرستیال وزیر. د ګوند غړی نـهٔ دئ. د افغانستان د جغرافیې په اړوند یوه لیکنه لري.

### محمد موسی نورستاني

په ۱۹۱۲ز کال کې په نورستان کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۲۴ تر ۱۹۳۱ز کال پورې منځنی ښوونځی او لیسه په ترکیه کې لوستي ده. په ۱۹۳۶ز کال کې د ترکیې ‹د غرنی لیوا›[3] په ښوونځي کې شامل سوی دئ. له ۱۹۴۱ تر ۱۹۴۲ز کال پورې ئـې په ترکیې کې د پیلوټۍ روزنه لیدلې ده. له ۱۹۴۳ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د افغان هوایي پوهنتون له بولندوی سره دندې تر سره کړې دي. په ۱۹۵۸ز کال کې د بګرام د هوایي ډګر بولندوی. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۴ز کال پورې ئـې د شوروي اتحاد په سوسیالیستي جماهیرو کې هوایي ضد روزنه ولیدله.په ۱۹۶۶ز کال کې د هوایي مدافعې د ځواکونو مرستیال بولندوی. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د احتیاط غړی. په ۱۹۷۳ز کال کې د ملي دفاع د وزارت سرمفتش. په ۱۹۷۴ز کال کې د هوایي مدافعې د ځواک بولندوی. په ۱۹۷۴ز کال کې درې ستورو

---

1 - adjutant general : دا اصطلاح ما ژباړونکي ته روښانه نـهٔ ده چې په افغانستان کې د وسله وال ځواک په اصطلاحاتو کې په کوم نوم یادیږي. دا اصطلاح د انګلیس او امریکا په وسلوالو ځواکونو کې هغه جنرال ته اطلاق کیږي چې اداري او د احتیاط سرتیرو او افسرانو چارې ورله غاړې وي. ــ ژ

2 -Kiushet

3 -Mountain Brigade Turkey



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

جنرال سو. وادۀ ئـي کړی او ۷ بچیان لري (یو زوی ئـي په وسله وال ځواک کي دئ، بل زوی ئـي د کابل په پوهنتون کي استاد دئ). د ۱۹۷۸ز کال د اپریل په میاشت کي د غوایی د پاڅون په پایلي کي ووژل سو. ژبې : کـتي نورستاني، پښتو، دري، تورکي، څه ناڅه روسي او انګلیسي.

## نور الحق

د عبدالحق زوی په ۱۹۰۶ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د حبیبیی له لیسي څخه فارغ سوی دئ او په هندوستان کي ئـي میترولوژي یا هوا پېژندنه لوستي ده. له ۱۹۴۰ تر ۱۹۴۲ز کال پوري د هوا پېژندني د خدماتو مدیر. د لومړي ځل لپاره ئـي ولایاتو کي د هوا پېژندني ستیشنونه جوړ کړل. د ټولګټو او اقتصاد په وزارتونو کي ملکي مأمور. د سوداګری د خوني رئیس، او د ټولنیز پرمختګ د پروګرام رئیس. په ۱۹۷۱ز کال کي ئـي د وزیر په رتبې تقاعد وکړ. د ۱۹۷۸ز کال د دسمبر په میاشت کي زنداني سو او له هماغي نېټي راوروسته تری تم دئ.

## ډاکټر غلام سخي نورزاد

(د غوایي له پاڅون وروسته) د کابل ښاروال.

## عبدالقیوم نور زی

د خلق د جریدې محرر. د مرکزي کمېټي او انقلابي شوری غړی. په ۱۹۷۸ز کال کي د معارف د وزارت مرستیال وزیر. د سویل لویدیځ زون بولندوی. د بزګرانو د کوپراتیفونو د اتحادیي رئیس. له یوې روسۍ مېرمني سره ئـي وادۀ کړی دئ.

## ډاکټر ګل محمد نورزی

له ۱۹۷۸ تر ۱۹۷۹ز کال پوري د علومو د اکاډیمی رئیس. د کابل د لومړی ګوندي حوزې منشي

## کبری نورزایي

د بسم الله لور په ۱۹۲۷ز کال کي په کندهار کي زېږېدلي ده. (کبری د حمیرا خور ده؛ حمیرا یو وخت د رابعۀ بلخي د نجونو د لیسي مدیره وه.) کبر نورزی د ملالی لیسه لوستي ده. په ۱۹۵۴زکال کي د کابل پوهنتون له ساینس څخه فارغه سوي ده. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۵۹ز کال پورې د فارس په پوهنتون کي فوق فراغت پروګرام لوستی دئ. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د ملالی د نجونو د لیسي مدیره. په ۱۹۵۹ز کال کي د (ښځو د هوسایني د ټولني/ انجمن رفاه زنان) [4] رئیسه. د معارف د وزارت غړې. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۵ز کال پوري د کابل پوهنتون د ښځو د برخي رئیسه. په ۱۹۶۴ز کال کي د اساسي قانون د مشورتی کمیسیون غړې. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۹ز کال پوري د عامي روغتیا وزیره (لومړنی افغان مېرمنه د کابینې د وزیرانو په منځ کي). په ۱۹۷۳ز کال کي د بې سوادی پر وړاندې د مبارزې د ریاست رئیسه. په ۱۹۷۵ز کال کي د افغان مېرمنو د ټولني او د افغان مېرمنو د انستیتیوت رئیسه. په ۱۹۷۵ز کال کي د مکسیکو په ښار کي د ښځو د نړی وال کلني کنفرانس لپاره د افغان پلاوي مشره. د ښځو د حقوقو مدافعه. مجرده ده. په فرانسوي او انګلیسي ژبو خبری کوي. د ۱۹۸۶ز کال په لومړیو کي په کابل کي وفات سوه.

## ډاکټر محمد عطأ نورزایي

---

[4] -Women's Welfare Society


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ر د کبری نورزايي ورور، او د بسم الله زوی په ۱۹۳۱ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۸ز کال کي د نجات له ليسي څخه فارغ سوی دئ؛ په ۱۹۵۵ز کال کي د کابل پوهنتون د حقوقو اوسياسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ؛ او په ۱۹۶۴ز کال کي ئـې خپله دکتورا د جرمني د کولن له پوهنتون څخه واخيستله. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۸۱ز کال پورې د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي استاد. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پوری د پروان والي. په جرمني کي اوسېږي او د OSULA غړی دئ. [5]

## ډاکتر مـحمد صديق نورزايي

د نورالحق زوی په ۱۹۳۲زکال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کي ئـې ليسانس تر لاسه کړ او په ۱۹۶۰ز کال کي ئـې خپله ماستري د کاليفورنيا د برکلي له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۶۵ز کال کي ئـې خپله دکتورا په اقتصاد کي د واشنګټن له پوهنتون څخه ترلاسه کړه. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د واشنګټن په پوهنتون کي سرپرست مدرس. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د کاليفورنيا د «سان لويس اوبيسپو په ښار کي» [6] د کاليفورنيا په دولتي پوهنتون کي پوهنيار؛ له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز پورې مدرس، له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۰ز کال پورې پوهندوی؛ په ۱۹۷۱ز کال کي پوهنوال او په ۱۹۸۰ز کال کي د کاناډا د البرتا په پوهنتون کي پوهاند. د ۱۹۸۴ز کال په مني کي د ستن فورډ پوهنتون ميلمه عالم؛ او د ۱۹۸۶ز کال په پسرلي کي د برکلي د پوهنتون مـېلمه استاد. د اقتصاد په ډګر کي د ګڼ شمـېر آثارو مؤلف. وادهٔ ئـې کړی او درې بچيان لري.

## ضيأ نورزی

د عبدالحق زوی په ۱۹۳۵ز کال کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کي ئـې خپل ليسانس په اقتصاد کي د کاليفورنيا د برکلي له پوهنتون څخه تر لاسه کړی دئ؛ په ۱۹۶۳ز کال کي ئـې خپله ماستري د سان فرانسيسکو له دولتي کالج څخه اخيستي ده؛ او په ۱۹۶۹ز کال کي ئـې يو ډيپلوم د ټولنيزو څـېړنو له انستيتيوت «هاګ» [7] څخه واخيست. په ۱۹۶۲ز کال کي په امريکا کي د افغان محصلينو د اتحاديي رئـيس. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د کابل په پوهنتون کي مدرس. په ۱۹۶۹ز کال کي د ټولنيزو څـېړنو د انستيتيوت غړی. له ۱۹۶۳ ار ۱۹۶۸ز کال پورې د ماليي د وزارت د خزاينو رئـيس او ورسرهممااله د IMF، IFC، IBRD او IDA د ګورنرانو د بورد علی البدل ګورنر. په ۱۹۶۹ز کال کي د آسيايي پرمختګ د بانک د عملياتو آفيسر. په ۱۹۷۱ز کال کي مشر عملياتي آفيسر، او په ۱۹۷۳ز کال کي عملياتي مدير/منيجر. د آسيايي پرمختګ د بانک د کارکوونکو د ټولني لومړنی منتخب رئـيس. اروپا، آسيا او امريکا ته ئـې ګڼ شمـېر سفرونه کړي دي.

## محمد کريم نصرتي

د ميرزا مـحمد امين منشي زوی په ۱۹۲۴ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. د حبـيبيي په ليسي او دارالمعلمينو کي ئـې تحصيل کړی او په ۱۹۴۶ز کي فارغ سوی دئ. همدا شان د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو په

5 - زه جناب استاد ډاکتر سيد عبدالله کاظم صاحب څخه مننه کوم چي د يوه پيام په ترڅ کي يې غوښتنه کړې چي په لمن ليک کي د ميرمن کبرا نورزايي او ډاکتر محمد عظا نورزايي د يوې بلې خور يادونه وکړم چي لودويګ آدمک يې په دې کتاب کي يادونه نه ده کړې. ډاکتر صاحب کاظم وايي : (خواهر ديگر شان محترمه حميرا نورزائی معلمه و مديره مشهور ليسه رابعه بلخی يک از خدام سابقه دارمعارف بوده که متأسفانه اسم شان در کتاب نيامده است و اگر لازم دانيد در پاورقی از ايشان نام ببريد)

6 -San Luis Obispo, California

7 -Institute of Social Studies, the Hague



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پوهنځي کي او د امريکا په متحده ايالاتو کي ئـي هم تحصيلات کړي دي. په ۱۹۴۹ز کال کي د ماليي د وزارت رسمي مأمور. د هلمند په لشکرگاه کي د کانو د تراښلو او حکاکی/ سنگتراشی [8] د فابريکي رئـيس. ليکوال او شاعر. د امريکا په متحده ايالاتو کي ژوند کوي.

**الفت** : وگورئ : الفت

**نور بيا**

## جنرال عبدالحق علومي

د سويلي زون آمر. په ۱۹۸۶ز کال کي د افغانستان د...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آريا د آرشيف: لينک

[8] - Lapidary



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ